مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۹/۰۴/۰۴

# سوله او زمونږ سياسي آندونه

## (تحليلي بحث)

دا مهال چې د يوې وړې کړکۍ له کنج نه د سولې د رڼا ځرک را رسيږي ، په رسنيو کې په بيلابيلو کچو هر څوک د خپل آند سره سم قلم چلوي . څوک خليلزاد ته سپکې سپورې وايي او افغان دښمن يې بولي . څوک بيا په اشرف غني ملنډې وهي چې ګويا د سولې په لاره خنډونه جوړوي او بيلابيل کسان د بيلابيلو زاويو نه د سولې رواني پروسې ته ګوري . ځينو خو لا ټول نزاکتونه له پامه ايستلي ، سترګې يې پټې او د خولې نه يې لاس اخيستي وي . دا کسان د احساساتو توره بيباکه چلوي او د ميدان قهرماني غواړي .
راشئ په دې باندې فکر وکړو چې سوله غواړو، که نه ؟ داسې څوک به پيدا نشي چې « نه » ووايي . ښه نو ، اوس که د سولې اړتيا وينو، بيا پکار ده چې د سولې پر بيلابيلو اړخونو په عيني توګه و ږغيږو .
د سولې اصلي خواوې کومې دي ؟ البته امريکا ، طالبان او افغان حکومت په لومړي سرکي راځي ، پاکستان په دوهم ، ايران او روسيه په دريم ، هند او چين په څلورم . . . . . موقعيتونو کې ځای لري .
د ا مريکا اوسني حکومت تر ټولو پخوانيو حکمتونو دا ګړی د سولې ليوال ښکاری . طالبان هم که د هر علت له مخې وي ، دريغ يې تر بل هر وخت د سولې په ګټه نرم کړی دی . افغان حکومت که دا کړی په مثبتو پريکړو کی لا تر اوسه پريکنده رول نلري ، مګر په منفی اړخ کی که خدای مکړه و غواړي ، خنډونه جوړولای ، مګر په ظاهره خو ځان د سولې ټينګ پلوی بولي .
امريکا ددې د پاره چې د سولې دمخته بيولو پخاطر ملا وتړي ، مجبوره ده چې دا دنده خپل يوه ډير اعتمادي کس ته وسپاري چې پر مخ يې بوزي . دا ګړی يې ښاغلي خليلزاد دې کار ته ګمارلي دي . څه فکر کوئ ، چې که يې دا کار يوه بل امريکايي ته سپارلی وای ، زمونږ افغانانو د پاره به ښه وای او که همدغه خليلزاد د افغان سولې په ګټه دی ؟ . خليلزاد که سل چنده نور هم امريکايي شي ، بيا يې هم په رګونو کی افغانی وينه بهيږي او تر بل هر امريکايي يې بايد پر افغانانو باندې زړه و سوزي . ددې خبرې مانا دا شوه چې د امريکا له پلوه تر خليلزاد مونږ ته بهتر استازی نشته . را به شو افغان لورې ته . دلته د حکومت نه بهر افغان اولس لا تر دغه دمه عملی پريکنده رول نلري . مطرح کسان چې بايد د حکومت له دريځه دا کار مخته بوزي ، هغه اشرف غني ، ډاکتر عبدالله ، اتمر او کرزی دي . زه نه وايم چې تر دوی نور لايق او وطنپال کسان نسته . که وي هم ، هغه کسان اوس په خاموش اکثريت کې ورک دی او رول صفر ته تقرب کوی . بيا نو مونږ اړ يو يوازی دغو څلورو کسانو ته د اُميد سترګي واړوو . د دوي له ډلي نه اشرف غني د يوې خوا قانوني واک پلاس کي لري او له بلی خوا د پاتو درو نورو کسانو په پرتله نه په لياقت کي تر هغوي کم ښکاري او نه هم په وطنپالنه کي . بيا نو دلته هم مونږ مجبور او اړ يو چي و غني ته د اُميد سترګي کړې کړو . دا همداسی ده ، که يې د بد او بدتر تر منځ انتخاب بولئ او که يې دده قانوني حق .
ځينی بيا نارې وهی چې بايد د نژدې دوو تيرو لسيزو لاسته راوړني د سولې قرباني نه شي . ددغو لاسته راوړنو په سر کي د بشر د حقوقو په غيږه کي د ښځو حقوق ډير يادوي . زما په آند تر اوسه لا نارينه هم پدې حالت کي چې د جنګ اورونه بل دي ، اړين حقونه نلري او له بله پلوه د بشر د ټولو حقوقو په محراق کي د انسان د « ژوند حق » واقع دی . په جنګ کی همدا اوس زمونږ ټول هيوادوال ددغه اساسي او بنسټيز حق څخه بې برخي دي . تلپاتې سوله له هرڅه نه وړاندي مونږ ته دغه د ژوند حق خوندي کوي . د جنګ لعنتي منګولو انسانان ) نر او ښځې ( ددغه تر ټولو مهم حق څخه بې برخي کړيدي . بايد دا و منو چي ټول د بشر حقونه د ژوندي انسانانو د پاره ټاکل شويدي . مړه کسان يوازی د شپږ متره کفن او يوه قبر حق لري .
که سولې ته د ژوند په مانا وګورو ، بيا نو د ژوند د حق د تر لاسه کولو په موخه بايد ځيني شيان چي تر دغه حق په ټيټه درجه کي ځای لري ، قربان کړو . ځيني کسان چي وايي په هيڅ قيمت مؤقت حکومت نغواړو ، هغوي بايد پدې پوه وي چي اصلي هدف ژوند او سوله ده . د حکومت ډول ددغه هدف د تر لاسه کولو د پاره يوازی يوه وسيله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده . که چيري داسی حالت راسي چي تلپاتي سوله صرف د يوه مؤقت حکومت په شرط تر لاسته کيدونکي وی  بيا نو بايد پوه شو چي حکومت د ژوندیو انسانانو د پاره دی او د ژوند پخاطر بايد دا قرباني هم و منو . که څه هم دا خو کومهستره قرباني هم نده . يو مؤقت حکومت به تر دغه کمزوري سهامي حکومت څه نيمګړتيا ولري ؟ دي خبري ته مو هم بايد پام وي چي که اړتيا ووينې ، فرمان والا دا قرباني را باندي په فرمان سره هم منلاي شي . دا اصل به تل په پام کي و لرو چی د ازاد سياست ميز هغه وخت په سوک باندي ټکولای شو چي په اقتصادی لحاظ پر خپلو پښو ولاړ يو . احساسات بايد د سياست پر منطقو بر لاسی نکړو . پدې کار سره که يو قدم مخته اخلو ، دوه قدمه شاته ځو . ددې د پاره چي د فرمان والاوو څخه ځان خلاص کړو ، بايد په هر قيمت چي وي ، و يوی تلپاتي سولي ته لاره پرانيزو او غاړه ورته کښيږدو . داځکه چي دا فرعونان د جنګ په غيره او زموږ په اقتصادي کمزورتيا کي فرمان والا شوي دي او په سوله کي چي اقتصاد مو  وده کولای شي ، بيا نو د هر پردی فرمان نه را باندي چليږي د اوسني ورځي د حالاتو په پام کي نيولو سره دغه زما تحليل دي چی د خپلو قلموالو دوستانو سره مي د زړه د خوالو په ترڅ کي شريک کړ . نور تاسی پوه شئ او قلم مو

.

**د هغي ورځي د راتلو په هيله چي پر خپلو اقتصادي پښو ولاړ يو او ازاد سياست کوو!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ